


کال ۱۴۰۳/۸/۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library





# زړه په خیالو کي

## شاعر: سیداحمد سعادت

تاریخ: ۱۴۰۳/۸/۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ستا د کامیابۍ کیسه خو زه کوم
زما د ناکامۍ کیسه به څوک وکړي

مورې خو پیغلتوب پر کور زړې کړلو
زمورې د بربادۍ کیسه به څوک وکړي

زه چي مو لیوانو ته په لاس ورکړم
ستس د نامردۍ کیسه به څوک وکړي

خپل پر حق ولاړ د دار تر سره ځم
زما د خودکشۍ کیسه به څوک وکړي

دلته که کمزوری سوي نو سر به خورې
زور کي د نړۍ کیسه به څوک وکړي

ته کوې سعادته د پردو کیسې
ستا د زندګي کیسه به څوک وکړي
۱۷/۹/۱۴۰۳

...

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مور**

**څنگه به نو زه آسمان ته نه رسم**
**مور مي چي لاسونه لپه کړيدي**

**ماته وايې زما پر معده بد لگي**
**ټول سيبان يې ماته جمعه کړيدي**

**ختم يې زما په نامر ايښي وو**
**نن يې بيا نغلونه تحفه کړيدي**

**ماته يې بوټونه په پور واخيستل**
**خپله يې د بل دا په پښه کړيدي**

**دا سعادت به سنگه ورِی پاته سي**
**خپل خواږه يې زما په نامه کړيدي**
**۱۲/۹/۱۴۰۳**
**...**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

د خدای د پاره درځه یار راته شر مه جوړوه
پر لویه لار کي کړي اقرار راته شر مه جوړوه

سر به نو خود د دار تر سره ځغلي
په سپینه خوله کړي جارجار راته شر مه جوړوه

بیگاه مي ټوله شپه کړه وینبه ستا په یاد کي تیره
خیر دي بیا مه کوه سینگار راته شر مه جوړوه

ورځه نن ولاړه سه سبا بیرته بیا را درومې
گوره چي ونه کړي انکار راته شر مه جوړوه

دا ستا د سترگو په مرمی باندي وشتلی سعادت
جوړ به یې نه کړي بل رخسار راته شر مه جوړوه

۱۲/۹/۱۴۰۳

...

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خدای مي څوک دي؟**

**زما په ذهن کي يو سوال دي**
**تر دي سوال وروسته جواب دي**
**د جواب د مخه سوال دي**
**تر سوال وروسته بيا جواب دي**

**خدای مي څوک دي؟**
**لات ،منات دي که غذات دي**
**لاړ دي ګاړ دي که بګوان دي**

**يا زما خدای خو سپوږمۍ ده**
**د نور ډکه سپين ککۍ ده**
**مګر دا بيا سهار نه وي**
**دا کيدای سي چي خدای نه وي**

**يا زما خدای خو غټ لمر دي**
**پر ټول مځکه يې نظر دي**
**مګر دی بيا ماښام نه وي**
**دا کيدای سي چي خدای نه وي**

**ځم منديرته کليسا ته**
**وه ايشور ته يا بګوان ته**
**په منديرکي يو څوک ناست دي**
**خدای په شکل د انسان دی**
**کليسا کي را ځړيږي**
**خدای د خلکو سه بيريږی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي راويښ سومه د خوبه
خدای لويدلي و له کَوچه
دا يو لاس يې وو مات سوي
يو ناورين يې و جوړ کړي
وس به بيا خټه خيشتومه
د خدای لاس به پيوندومه
مگر دا مي سنگه خدای دي
چي خپل ځان نسي ساتلای
لاس يې زما په اراده دي
چي ور جوړ يې کړم کي پريږدم
او که يا خدای معيوب پريږدم

يا زما خدای خو احد دي
لم يلد و لم يولد دي
نه دچا څخه بيريږي
و هر چا لره صمد دي

کائينات دده په واک دي
مخلوقات دده په واک دی
انسانان دده په واک دي
پيرانان دده په واک
حيوانات دده واک دي
خسمانان دده په واک دي
هيڅوک هيڅ نسي ويلای
لات،منات دده په واک دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اوس مي ذهن کي سوال نسته**
**تر خدای مخکي بل خدای نسته**
**دا جواب مي زړه راښه کړي**
**تر خدای وروسته بل خدای نسته**

**زه باور لرم په خدای مي**
**چي سعادت به ماته راکړي**
**له دوږخه به مي خلاص کړی**
**د کوثر جانان به زما کړي**
**۱۲/۹/۱۴۰۳**

**...**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نظم**

**موږ هم ځوانان یو د یارانو سره ژوند به کوو**
**مکتب به فریږدو کافیشاف ته ځو چلم به څکوو**

**راسي په ګډه سره یو کار وکړو هیواد به خرڅ کړو**
**دوی پر پنجاب خرڅ کي او موږ بي پر کفارو خرڅ کړو**

**راسي خور مړه کړو او پر حق باندی خاشه واچوو**
**همسایه مړ کړو بیا یی لور لره جرګه واستوو**

**موږ کندهاریانو دا غرور به مو ثابت پاته سی**
**خپل ورور به مړ کړو او کمزوري به تربور پاته سي**

**موږ د میلو او دهوس شوقیان یو**
**تش د ډري او د ټوپک شوقیان یو**

**موږ ته را پاته په میراث ده سګواني او جګړه**
**په کلي کور کي ګرځومه سلایي او بارچه**

**تاسو لږ راسي او ما پوه کړي دی په څه غره دي**
**دغریب زوی دی او طبیعت یې بیا بیخي رسته دي**

**چي نه یی مځکه نه جایداد او نه یې کار معلوم دي**
**دی پکښي ناست دي دا فورنر یې بیا پرچا معلوم دي**

**ته چي په سپینه خوله نن ځی توره هوندا رانیسي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دا وخت به تیر سي بیا به ځان لره ارمان رانیسی**

**ته راسه کښینه چی دادا څه وایې پلار څه وایې**
**خور دي مړه سوي ده له لوړي او بیابان څه وایې**

**ته چي یي په نس کي ګرځولي د هغې ګناه وه**
**پلار چي شل کاله ته ساتلې بي فایدې دنیاه وه**

**د مرویس خان دتوري شرنګ ته دی ونه کتله**
**د احمد خان د وینو رنګ ته دی ونه کتله**

**ته تیمور شاه سوي په حرم کي خپل عشقونه کوی**
**هیواد نو څه کوی د یار غیږ کي خوبونه کوي**

**دخدای لپاره نور ولاړ سه زویه**
**جهالت فریږده را روان سه زویه**

**قرآن درواخله پر سینه پوري یې ټینګ ونیسه**
**بابا خبري کړي نو غوږ ورته سنګین ونیسه**

**زویه میلو او په شوقو باندي څه نه جوړیږی**
**عبس کارو او مسخرو باندی څه نه جوړیږی**

**ته که جوړیږي ستا مسکن جوړیږي**
**چي تعلیم وکړی دا وطن جوړیږي**

**د سعادت جان خبره واوره زویه**
**جهالت پریږده پوه انسان سه زویه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ټپې

ورځه ورځه بیوفا ولاړې
چي بیا راځې نو مابه ځان وژلی وینه

زما بدل خدایه ترې واخلي
مین پرې زه یم پلار یي بل ته ورکوینه

په آخرت کي به نارې کړم
تیره دنیا کي جانان ډیر ربټلی ومه

انجلۍ د پلار پر کور زړه سي
نصیب دې مه سه په نکریزو سره لاسونه

دا ځنګه غوړپړ راته ګرځې
رب دي مین کړه چي خیرن دي ووینمه

ریباره ته لا تر ما ښه یي
زما تش خط دي ته بي وکړي دیدنونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چي زما نسو د بل مه سه**

**ربه قیامت کړه چي جانان بي یاره سینه**

**باد د جانان د لوري راغلی**

**پر نور تریخ وو پر ما خوږ ولګدینه**

**باده پر یار مي سلام وایه**

**بیا ورته وایه چي تا ډیرډیر یادوینه**

**ما ته پر غیبو قبول کړي**

**په ورځ محشر کي چي مي هیر نکړي مینه**

**ورځه ورځه الله دي مل سه**

**په مخ دي ښه سه چي بیا رانسي مینه**

**د ماځیګر ژړیه لمره**

**زړه مي دربیږي جانان بل وطن ځینه**

**زما دي څه وکړل چي ولاړي**

**پر ځان دي بند کړل دسورکو شونډو سیلونه**

**د پښتنو رواجه وران سي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



بابا ظالم مي وه بوړا ته ور کوينه

بخته ناځوانه دا مي واوره
نور په هوا سوه زه خوار ناست په مځکه يمه

د نيمي شپي راتگ دي ورک سه
د دروازي کړپې ته ويښه ناسته يمه

په نيمه شپه چي را په ياد سي
ستا په يادو کي مي ښه ډير ژړلي دينه

مسافري نه بيرته راغلي
خواري دي نه وه که زه ډير دريادېدمه

ټوټي ټوټي مي يار ته يو سي
چي د بي ننگه يار مي زړه را خونک سينه

باده ورځه سلام مي وايه
بيا ورته وايه چي تا ډير ډير يادوينه

ستا تور زلفان دي که ماران دي
پر مخ چي راسي ما دستي ناروغه کړينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سعادته ناکه ورته ناست يې**

**مين پري ته يې پلار يې بل ته ورکوينه**

**۱۴۰۳/۴/۱۷**

**...**

سعادت

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

عشق دي محبت دي او که مينه ده
دوي خرابه کړي د زړه وينه ده

زه چي پسي مرمه ملامت نه يم
وګورئ په ټولو کي حسينه ده

وايه چي په څو ده نن يې اخلمه
خوله مي ستا مچکه پسي خوږينه ده

پس له ډيره وخته مي يار بيا راغلي
کال کي مي هم دغه ورځ رنګينه ده

سنګه دي کاسه د کِبر ماته سول
داسي دي د زړه را سره مينه ده

زه سعادت قربان ستا تر نَامَهْ سمه
ټولو کي دا ستا نَامَهْ سنګينه ده

۱۸/۸/۱۵۰۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

د کامياب انسان فکرونه نه ختميږی
د ناکام انسان عُذرونه نه ختميږی

يو شپه راسه ځان بيکاره که جانان
ستړی ژوند دي ستا کارونه نه ختميږی

لا تر څو د جهالت پر بستر خوب کړی
قامه ويښ سه ستا خوبونه نه ختميږی

دا مو کړي دا به وکړو ته يې ګوره
ټول درواغ دي ستا قَوْلونه نه ختميږی

که ښکنځل کوي بيا هم زه ورته غوږ يم
د خواږه جانان لفظونه نه ختميږی

پر دي خاوره به زلمي سرونه سرږدي
ټول ښاغلي دي مړونه نه ختميږی

ستا وصال ته چي لا څومره لاره پاته
پښې مو شَلي سوي مزلونه نه ختميږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خدای خبر چي له دي رنځه به جوړیږی**

**د سعادت د زړه دردونه نه ختمیږی**

**۲۸/۷/۱۴۰۳**

**...**

سعادت

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

د نیمي شپي د خاموشیه دي خدای مه خبروه
جانانه ستا د جدایه دي خدای مه خبروه

د خاموشۍ د غالمغاله نو ته څه خبر یې
جانانه زما د زندگیه دي خدای مه خبروه

دا چي وریږي په شیبو شیبو په لپو باران
دیوه څاڅکي د ورانیه دي خدای مه خبروه

زما په مخ کي چي رقیب ته غاړه ورکې اشنا
زما د زړه د نا ارامیه دي خدای مه خبروه

خیر دي ته خپلي غوړي وهه موږ به و خدای ته ژاړو
د وږی زوی د آسویلیه دي خدای مه خبروه

سعادته مخامخ ویار تر شا بیا پښې راوهي
دښکلي یار د دوه مخیه دي خدای مه خبروه

۲۱/۸/۱۴۰۳

...

## غزل

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخته ځي تر شا ګوري مړ به سم

سترګو کي په غلا ګوري مړ به سم

ځه ورځه خپل لار وهه مه مي زهيره وه ياره

زما په زړه کي تا ګوري مړ به سم

روغ به پاته کيږمه زړه ته خو مي نه لويږي

ته چي نا اشنا ګوري مړ به سم

مځکي ته خبري دي يا که شنه آسمان سره

ته چي په عدا ګوري مړ به سم

دومره ظلم مه کوه دومره تاب يې نه لرم

ماسک کي په خندا ګوري مړ به سم

زما د زړه طبيب يې ته زما د زړه علاج وکه

زړه کي نابينا ګوري مړ به سم

وران به سم زري به سم زه سعادت ايري به سم

داسي چي اشنا ګوري مړ به سم

۱٦/۸/۱۴۰۳

...

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هی هی

ته چي په سورکو شونډو انکار کوي هی هی
بیرته چي په مړو سترګو اقرار کوي هی هی

څومره خوږ زغیږي زما له حاله ناخبره دي
دا سړی مي زړه لره قرار کوي هی هی

نه ریبار لرم نه وه ریبار ته ضرورت لرم
خوږ جانان په مینه کي اسرار کوي هی هی

ته ورځه د بل په لاس دا نه کیږي
زموږ په کور کي زموږ سړي به کار کوي هی هی

څه دي نو د زړه حال ورته ووایه
دا سعادت وه تاته انتظار کوي هی هی

۷/۸/۱۴۰۳

...

(c) ketabton.com: The Digital Library



## درواغ دي ټول

ته چي په خندا سوي زه په جار نه سوم درواغ دي ټول
ستا مينه کي ژوند کړم ترتا ځار نه سوم درواغ دي ټول

ما خو ستاپه مينه کي خپل سر صدقه کړی و
سر مي پر خپل تن گرځي په دار نه سوم درواغ دي ټول

دا سړی ازبک دا هزاره دي  دی پښتون صاحب
زه په يوه قام کي راغوځار نه سوم درواغ دي ټول

ټولې د ژوند هيلي مي وتا لره ساتلي وي
ته چي راسه ولاړي په تا خوار نه سوم درواغ دي ټول

ستا بيلتون تر دي حالته راوستم
زه په جنازه کي دا ستا يار نه سوم درواغ دي ټول

نه عزرائيل راغلی نه شپيلۍ د سور سرود وهي
زه سعادت په تا پسي بيمار نه سوم درواغ دي ټول

۲۱/۷/۱۴۰۳

...

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څه وکړمه

په مخ يې ښه ګران مي روان دي څه وکړمه
د زړګي کور مي پسي وران دي څه وکړمه

د ټولو مخکي غاړه راکړي ښه مي کلک ونيسي
سم ابوجهل مي جانان دي څه وکړمه

هر څوک چي راسي خپل تروسه يې پر سر ټکوي
څومره زخمي افغانستان دي څه وکړمه

که هر څو واره دي وران سوي زه يې بيا جوړوم
دا دومره خوږ لکه ايمان دي څه وکړمه

دا چي د جنګ د جنګ نارې وهي داڅه خبر دي
بې باباجانه خو کور وران دي څه وکړمه

د شايستونو قافله تر مصره هم رسيږي
ټولو مريانو کي يو ګران دي څه وکړمه

سعادته ته د محبت له زوره نه يې خبر
په ټول وجود کي د زړه زيان دي څه وکړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نو څوک دي؟

چي دوي ندي هغه ندي نو بیا څوک دي؟
زما و ستا ترمنځ بیا نور غمازان څوک دي؟

لاس تړلي يې رقيب ته په لاس ورکړم
چي خپلوان مي دښمنان نه دي نو څوک دي؟

دا چي مور وژني او ځانته غازيان وايي
چي همدغه قاتلان ندي نو څوک دي؟

خير يې راکړي پر فيسبوک يې عکس خپور کړي
چي همدوي ريا کاران ندي نو څوک دي؟

د يتيم مځکه يې خپل په قباله کړه
چي زور واکي غاصيبان ندي نو څوک دي؟

د سعادت سر به يوه خدای ته ټيټيږي
نور خدايان چي باطلان ندي نو څوک دي؟

۱٦/٦/۱۴۰۳

...

(c) ketabton.com: The Digital Library



**غزل**

**دا کږو وږو خطو کې مې ژوند پروت دي**

**که سیده سول نو هرځه راسه پاتیږي**

**داخورې ورې ډیورن زلفې دې جارسم**

**اغزن نسې پښتانه راسه پاتیږي**

**زه پښتون یم ته ازبک دی هزاره دي**

**که یو موټې نسو مړه راسه پاتیږي**

**چې تر څو مو یو و بل منلی نه وي**

**فقیران یو شتمن نه راسه پاتیږي**

**ته ملا یې درځه مخته جماعت راکړه**

**نیت مو کړی تکبیر نه راسه پاتیږي**

**لاس مو پورته کړئ سعادت له خدایه غواړو**

**لاس کې بله ډیوه مړه راسه پاتیږي**

**۲۸/۵/۱۴۰۳**

**...**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جانان

ته د هیچا نه یې ورځ لاچي لونګ جانانه
دسلو غیږ کي په سل لارو په سل رنګ جانانه

دا ستا یادونه به مي هره لحظه مرګ ته وهي
ته راسه ولاړي زه دي هیر کړلم بدرنګ جانانه

دا ستا په شتون کي به مي غره ته برو برو ویل
اوس چي ته نه یې را نسکور سوم لکه بنګ جانانه

که دملا په تعویزونو باندي څوک خپلې داي
تابه لیدلی وای چي چي ناست یم ستا تر څنګ جانانه

ته چي پر تللې هغه خاوري اوس خورده ګرځوم
باچا سړی ومه او جوړ دي کړم ملنګ جانانه

زما دسوی زړه ښیرا به دي را ونړه وي
اي د نړۍ له ښایستونو ګلاب رنګ جانانه

د ځنګدن ترخې شیبې به لا تر دې سختې وي؟
زما په مخکي پر بل واچوي چي څنګ جانانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د سعادت اوښکي به دخپل ورور پر لمن توييږي**

**هرڅه به وران کړي ته يي ګوره دغه جنګ جانانه**

**دا ستا په ياد کي هره شپه د آسمان ستوري شمارم**

**د سړي زوی سه کنې وم دي په کولنګ جانانه**

**۱۱/۵/۱۴۰۳**

**...**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## توبه توبه

ستا سره جفا کول توبه توبه

بل چاته خندا کول توبه توبه

ته مي د دادا او د بابا کوریې

ستا په سر سودا کول توبه توبه

شیخ یم خو د حسن تاب یې نه لرم

ښکلو ته بیا نا کول توبه توبه

ته مي کوه قاف یې شاپیرۍ یې د بغداد زما

ستا سره جفا کول توبه توبه

روغ پر سد سړی وم لیونی سومه

سترگو ته یې بیا کتل توبه توبه

ویل یې مینه جرم دي ما نه منل

ژوند ټول پر صحرا کول توبه توبه

تا پسي رنځور سعادت ته وگوره

ټوله ورځ ژړا کول توبه توبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نظم**

**راځه نن ولاړ سو**

**داکلی پریږدو**

**دغه ښار پریږدو**

**داملت پریږدو**

**یوځای به ولاړو**

**د غره وشاته**

**چي بیا رانه سو دغه هیواد ته**

**نو**

**ځان  پناه کړو له دی دنیا سه**

**داسي ځای ولاړ سو**

**چي رڼا نه وي**

**څراغان نه وي**

**او گروپان نه وي**

**شنکی آسمان وي**

**پر سر ولاړ وي**

**د ستورو شمار وي**

**زما و ستا وي**

**نو**

**چي زه یو لمر وای ته مي سیاره وای**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چي ته سیاره وای زه دی جذبه وای**

**ژوند به را پیل کړو تړوله په مینه**

**بیا یې کړو ختم تړوله په مینه**

**چي مدرسه وای طالیبان نه وای**

**او پوهنتون وای محصلان نه وای**

**زه دي ملا وای ته مي مورا وای**

**زه پوهنمل وای ته پوهنیار وای**

**نو**

**مو روزلی ځو شاګردان وای**

**پرمځکه نه وای تړول په هوا وای**

**زه مومن جان وای**

**ته شیرینی وای**

**هلته ښامار وای**

**پروت پرغونډۍ وای**

**بیا ما ژغورلي**

**ته یوه انجلۍ وای**

**نو**

**ته زما وای او زه دا ستا وای**

**بیا لاس تر غاړه زما ناوکۍ وای**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چي يو ما ښام واي**

**په غیږ کي ستا وای**

**سپوږمۍ وای لوړه**

**رڼا پر یار وای**

**زه په جارجار وای**

**ته یا قربان وای**

**نو**

**سعادت شاعر وای ته یو شاعره**

**بیا دي ویلای ده ته غزله**

**۱۴۰۳/۴/۲۷**

**...**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

عنبر بویه سنبل بویه ګلاب بویه
مَشکي بویه زعفران بویه شبې بویه

ستا پستې پستې وریښم زلفي ټالونه
سره غومبري دي دچا دي انار بویه

کاغذي ګلابي شونډي دي کندهار دي
اننګي دي ننګرهار دی نارنج بویه

سپین کمر دي سپین غاښونه دي لعلونه
دنګه ونه بدخشان دی عطر بویه

نرۍ غاړه غټې سترګي کج بانه دي
درته ګورم نورستان دي بادام بویه

ستا پر زنه باندي شنه خالونه سر ږدي
ټول عسکر د کابل جان دي نرګس بویه

خوار سعادت به لکه غشی تري راوزي
نرۍ ورځي دی ګماني جعفر بویه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

**ما کشف کړی د سینې جذبه ده**

**ملا، پنډیت، او ټول پاپان يې مني**

**د خولو څاڅکي پر جبين باندي سيلاب جوړوی**

**شبنم رخسیړی او باران يې مني**

**دلته نقطه ده هلته ټکی پروت دي**

**ژوند ندایه ده هر لیکوال يې مني**

**تر تخرګونو لاندي ليکه دي له ورایه ښکاری**

**د واسکټ زور دي پيچ را تاو يې مني**

**ستا لندې زلفي دي ټال ټال پر اوږو**

**څاڅکي روان دي او ګریوان يې مني**

**وای چي جره يې شهزاده يې دا فالتو خبره**

**دچا وه غيږي ته پنا وړل شاه ګدا يې مني**

**په يخه شپه کي د خولو د خونده څه خبر يې**

**په نيمه شپه کي لاس تر غاړه سعادت جان يې مني**

**۱۴۰۳/۵/۳۰**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کرکه

عجبه خلک یو رښا څخه مو کرکه کیږی
کتاب ځیرو او د جهان څخه مو کرکه کیږی

اوس دمسجد تر دروازی پوری په تیل هم نه ځو
هلته محراب کي د آذان څخه مو کرکه کیږی

دجهالت لمن کي خوښ یو موږ دي نه ښوروي
په جوړ وطن کي یا قربان څخه مو کرکه کیږي

زموږ لمن ته یي بلها بلها غمونه راکړل
داستا په څنګ کي ناست جانان څخه مو کرکه کیږي

دا نرم نرم ږغ نو څه معني رمباړي وهه
په کلي کور کي پوست زبان څخه مو کرکه کیږي

در سره ني منم چي هر ځومره زارئ هم وکي
خرونه مو خوښ دي د انسان څخه مو کرکه کیږي

په کوچنی ځوز پسي چاړه راخلمه ګوته ځیرم
اي سعادت جانه دخپل ځان څخه مو کرکه کیږي

۱۴۰۳/۴/۱۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



**گناه**

**لاس مي پورته وه دعاته فکر وهم وه گناه ته**
**چي به څنگه ژر را خلاصمه ددې لویه ثوابه**

**گناهونو راتېنگ کړي ثوابونه راسه هیر دي**
**په لمانځه کي سوچ وهمه تاته درسمه که خدای ته**

**فاتحه کې مي د ډول آواز تر غوږ سو**
**یو کور ژاړي بل رخصیږي وه سورنا ته**

**تاسو ما یاد کړي زه څونده پر هیز گار یم**
**سجدو کې سجده کړم آخر ولاړ سمه ریا ته**

**یوځه ورکه ډیره واخله کونډه څه خبر د غلا نه**
**اي سعادته پروا نکړي آخر ولاړ سه بیت الله ته**

**۱۴۰۳/۴/۱۳**

**...**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شعر**

**زه يې لیږمه وه آسمان ته بیرته رد سی راسی**

**څه بد قسمته یم دعا مي اوس هم نه قبلیږی**

**دغه ارمان مي دی چي وره سم تر کوره دا ستا**

**په پاک حرم کي به مي ته وا قدم ولګیږي**

**ډیر مینتونه او زاری مي ورته زړه کي وکړي**

**ډیر را نژدي دي خو اواز مي ورته نه رسیږی**

**ببخه یاره په جرګو جرګو د ځان مي نه کړي**

**پر بل مین سې چي وه تاته هم ونه رسیږي**

**د ټوله کلې غیبتونه تهمتونه ستا دا زما پر سر دي**

**ته هم جفا کړی پر ما خوار دي زړګی نه رحمیږي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پر مځکه ناست وه تر آسمانه دي ټول ورسول**

**بخته ناځوانه پر سعادت دي زړګی نه خوږیږي**

**۱۴۰۳/۴/۷**

**...**

سعادت

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شعر

**نه يې په تور نه يې په سپين پرېښودم**
**غوښې زما په مالګه وه لړلې**

**سيده ميخونه ټکول کیږی کاږه نه ټکوي**
**رڼا پيکه سوله تياري له ښاره وه شړلې**

**تيره باڼه خنجرخنجر سترګي بمونه ګولی**
**د زلفو تار يې د زړګي په کور کي وه تړلې**

**اوبو اخستې يو وه زک ته اوس ټالي را وهو**
**د پښتون قامه څه د غم په کاسه وه زانګلې**

**چايو کي مچ ګيلاس چپه غوړو سه مچ غور ځوو**
**دواړو کي يو مچ دي فائدې دمطلب ښه خوړلې**

**بل ته نصيحت کړي موسيقي او شراب واړه حرام**
**سعادته خپله د رباب نغمې ته وه نڅلې**

**۱۴۰۳/۳/۳۱**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## واوا

خوار مین به تا جوړ کړم ته راته واوا کوه
ټول به دي زما جو کړم ته راته واوا کوه

نن راته غزل پرته ده دا واوره
شعر به درته بیا جوړ کړم ته راته واوا کوه

تا چې مار ساتلم مړولم دي
نن به دي ګدا جوړ کړم ته راته واوا لره

یو وار مي در وغواړه ملنګه زما
ژوند به دي باچاجوړ کړم ته راته واوا کوه

ته راته دآمن بیرغ ونیسه بیا وګوره
داسعادت به ستا جوړ کړم ته راته واوا کوه

۱۴۰۳/۳/۲۷

دغټ آختر شپه

...

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کې نه کوي

نن را سره شپه کوي کې نه کوي

ته راته د سترې ژوند کیسه کوي کې نه کوي

خپله دي دوي کړیدي په دریمه پسي مړ پروت یې

بس دي پلاره ماته یو کوزده کوي کې نه کوي

ماخوپیسې ټولي برباد کړیدي

خیر دي وروره ته لږ حوصله کوي کې نه کوي

رابه سې چي زه درته منت او زارئ وکړمه

وه یاره وه مور ته څه بانه کوي کې نه کوي

زه به سقوط کښینمه په تمه ستا

ته په نرۍ شونډو زمزمه کوي کې نه کوي

ستا په راتلو مړ سعادت ژوندی به سم

ته راته د حسن ننداره کوي کې نه کوي

...

۱۴۰۳/۳/۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ستا هم سفر دي**

**ژړ ماځیګر دي**

**دغره پر سر دي**

**لمر بیخې ژړ دي**

**پر بل وطن دي**

**ستاهم سفر**

**حال راته وایه**

**نیت دي وښایه**

**خبر له ورایه**

**درواغ مه وایه**

**دا څنګه چم دي**

**ستا هم سفر دي**

**پر کمه ځی نو**

**چیري به ځی نو**

**کله راځی نو**

**پیغام کوي نو**

**ژوند بیخې لنډ دي**

**ستاهم سفر دي**

**بیخې شایستې دي**

**پرمخ پرتې دي**

**زلفې اوږدي دي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ستا بیا ګیلې دي**

**شونډي قلنګ دي**

**ستا هم سفر دي**

**ته به نو څه یې**

**د یو چا زړه یې**

**ستاهم تقدیر دي**

**زما هم تقدیر دي**

**چی بخت مو کم دي**

**ستا هم سفر دي**

**را سره سم یې**

**در سره سم یم**

**زما خلاف یې**

**دا ستاخلاف یم**

**عمر په جنګ دي**

**ستا هم سفر دي**

**ساده پاده دي**

**دا ستا په زړه دي**

**خبري زیاتي کوی**

**سعادت هوښیاري کوي**

**دا یې لنګر دي**

**ستا هم سفر دي**

**۱۴۰۳/۳/۱**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بابا

چیري دا ستا چیري زما چیري بلا خبره
هیڅ کله نسي ماتولای د دادا خبره

دا راکړه لفظ بدي عزت کم کړي دا واخله وایه
ماته یې کړیده په وار وار مي بابا خبره

د ژوند دوران کي که ناکامه سوي بیا هڅه وکړه
زویه چي ونه ګړې وه ځانته بس دي دا خبره

ستا وه راتګ ته هره شپه د ساعت ټکاری شمارم
ته چي رانسي زهن کي راسي بي معنا خبره

که دچړو پر څوکو ژوند وي زه تیار یم ورته
ته دي خپل ژوند جوړکه تعلیم وکړه هوسا خبره

دا ستا ارمان دي زه بي پوره کړم خو لږ صبر وکړه
چیچیه ونه کړي وه پلار ته د جلا خبره

سعادته وه یې که عزت اوس لاژوندی دي بابا
وروسته مزار بي جوړومه پالتو دا خبره

۱۴۰۳/۳/۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ژونده ما څه غوښتل او تا راسره څه وکړله
باچا غلام سومه بادار را سره څه وکړله

د قافلې مهار مو بل ته دي په لاس ورکړي
پردي مو وژني نو خپل یار را سره څه وکړله

دا ستا معصومي سترګی خوږ اواز مي ډیر یادیږي
بي ننګه یاره ستا ریبار را سره څه وکړله

دا ستا څهره مي په خپل زړه کي رسم کړیده خو
څه راته نه وایې قرار را سره څه وکړله

دا ستا په یاد کي میخاني کي مي خپل کور جوړکړي
ساقي مي یار کړی خو خمار را سره څه وکړله

ستا په یادو کي سعادت ټوله شپه په ویښه ناست وم
سهار د بل چا سوي سهار را سره څه وکړله

۱۴۰۳/۳/۱۱

...

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عرب**

**زما د جانان په وینو سور احد لا هم ژړیږي**

**عرب لګیا دي په احد کي ډم خاني جوړوي**

**عجبه وخت وو د دي خاوري سه به فارس لړزیدي**

**عجبه وخت دي فارسیان دلته تماشې جوړوي**

**دلته صدیق.عمر.عثمان.علي سول قربان**

**سلمان یې یاد کي دغرب نوی پلوشې جوړوي**

**دا دحمزه څري سینه هم ورته نه یادیږی**

**کفار یې راوستل ساحل کې یې دیرې جوړوي**

**دخپل جانان خبره یی هیره کړه چی شرک وباسی**

**دمشرکانو د پښو پل څخه خوردې جوړوي**

**سعادت خدای دي هدایت ورته نیکو وکړي**

**یو یې مړکیږي بل یې سرته زمزمې جوړوي**

**۱۴۰۳/۲/۲۹**

**...**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نو ته څه خبر يې**

**چي تور لونګ قیمت بهادي نو ته څه خبر يې**

**د سپیني مالګیارزانې سه نو ته څه خبر يې**

**د سترګو سپین څخه دید نه جوړیږي**

**چي يې کاته په تور دخال دي نو ته څه خبر يې**

**خلک ورځي په عاجزي ورته سجده لګوی**

**چي تور غلاف باندي کعبه ده نوته څه خبر يې**

**دځوارلسمې سپوږمي بيا څومره شايسته ښکاريږي**

**پر سپین باړخو دکجل خال سه نو ته څه خبر يې**

**جانان مچ کړیده سعادته ته بې هم مچوي**

**توري ډبري د اعزاز سه نو ته څه خبر يې**

**۱۴۰۳/۳/۵**

**...**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**غزل**

**ته خوشبیني ته خوشحالي ته یې سالار وزیره**

**زه بدي ستایم خدمتونه پر هر ځای وزیره**

**ساده پاده ملنګ سړي وي مګر موږ رانده وو**

**خویونه ستا د تخت و تاج دي زموږ باچا وزیره**

**د همصنفیانو هر مشکل ته دي لبیک ویله**

**ته وفادار یې ژوند دي غواړو قهرمان وزیره**

**ستا د اخلاقو د چینې څخه زمزم څه څیړي**

**چیري بل نسته ستا په مثل لا مثال وزیره**

**زما د سنګ غوندي رهبره ستا سنګتوب ته سلام**

**سعادت به غواړمه له خدایه ستا وصال وزیره**

**شاعر :سیداحمد سعادت**

**ډالۍ دي وي**

**وزیر احمد شریفي ته**

**۱۴۰۳/۳/۱۴**

**...**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ولاړه**

**د جنتو کیسه یې خلکو ته کوله ولاړه**

**حوره راتله خو د یوچا سه شرمیدله ولاړه**

**شایست تمام وو نو تشبه ورته دځشې ورکم**

**دستورو منځ کې سپوږمۍ ډیره ځلیدله ولاړه**

**دغره لمنې دې اوبه دې بلبلان چغیږي**

**په ماهیپر کې یوه زرکه ګرځیدله ولاړه**

**دانتظار خوږی شیبې دبیلتون تریخ حقیقت**

**وعده یې وکړله خو بیا هم نه راتلله ولاړه**

**په شبګیرو شبګیرو سترې سو برباد سو سعادت**

**یو وخت وو نوم سره یې ستا نامه راتلله ولاړه**

**۱۴۰۳/۲/۲۹**

**...**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**افغانستان**

**څومره خوږ يې لکه ځان افغانستانه**

**صدقه دي سم قربان افغانستانه**

**د آسيا دز ړګى کور په تا ودان دي**

**زما کورهز .ما جانان افغانستانه**

**تاپه خپل غيږ کي روزلي نوميالي دي**

**شمله ور يې خوشحال خان افغانستانه**

**د ګورګين په ماتولو تاريخ ډګ دي**

**ننګيالي يې مرويس خان افغانستانه**

**حاجيګک دي هندوکش دي که واخان دي**

**ټوله غرونه دي درمان افغانستانه**

**ستا په خاوره کي کفري نړى ماتيږى**

**ته سعادت يې پر جهان افغانستانه**

**۱۴۰۳/۲/۱۳**

**...**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## واوره انجلۍ

دهر ارمان بدل به واخلمه ته واوره انجلۍ
اوس که زما نه یې زما به سي ته واوره انجلۍ

ترسختو سخته به تریږي هیڅ پروا مه کوه
خیر دي که ژاړې په خندا به سي ته واوره انجلۍ

ته یې هوسۍ خو په ځنګله کي شرمښان ګرځیږي
دبل یاری کي په نا نا به سي ته واوره انجلۍ

دوي ورځي ژوند دي راسه یو او بل ته غاړه ورکړو
زه به دا ستا سم ته زما به سي ته واوره انجلۍ

پر لاري بنګه بنګه مه ځه دبل چا به نسي
آخر سعادته په نیکا به سي ته واوره انجلۍ

20\2\1403

...

(c) ketabton.com: The Digital Library



**غزل**

**سترګې په کجل توري ځی باباولي لره**

**زړونه يې کباب کړله لوړ شاه حسيني لره**

**خدای ورته کافر حسن ورکړيدي**

**مصر کي زوريږی کنعاني لره**

**تاپسي ژړيږي دی تاپسي مړ کيږي دی**

**نن شپه يې ته راوله ستا دنګي ځواني لره**

**نيمه شپه کي ستا بيلتون کيسه کوي**

**مړ به سيداحمد کمه ستا شونډو سورخي لره**

**ستا امر پر ځان مني تاته به سلام کوي**

**دا سعادت به ژوند کوي ستا وه تورپيکي لره**

...

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

د ژوند پر هره لار مي تاته انتظار کړي دي
خومره بيوسه یم انکار ته مي اقرار کړیدي

شونډان دي سره کړله په ناز نخرو پر لار روانه
رانجه په سترګو تا وچا لره سينګار کړيدي

چيري مقتول نسم د ډيرو اوبو تاب نه لرم
د سترګو سيند مي وه ګريوان لره اخطار کړيدي

ستا دروازه کي يم ولاړ خيرات د حسن غواړم
په سپيرو لاسو مي وه خدای ته دا ګفتار کړيدي

نه ميخانه سته نه شراب دي نه د چرسو لوګی
زه چي خمار خمار زنګيږم تا سينګار کړيدي

څوک چي مين سي کنګرو ته د آسمان وګوري
زه چي مين سوم پدي کار کي مي اسرار کړيدی

زه ورته ليک دميني وليکم جواب منفي سي
وروسته خبريږم رزالت ټوله ريبار کړيدی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**محبت څه دي تهمتونه دي دخلکو وړه يې**

**سعادته ماته يو مين دغه اقرار کړيدي**

**۱۴۰۳/۲/۲۷**

...

(c) ketabton.com: The Digital Library



## راځه جانانه

**د راوجو زولنې ماتي که راځه جانانه**

**په سپینه ورځ دروازې ماتي که راځه جانانه**

**زمور په کلي کي د میني نوم په بدو وایې**

**د دي مالت فیصلې ماتي که راځه جانانه**

**تا دکوکنارو کښت کرلي دګلاب له خونده نه یې خبر**

**میکده فریږده نشې ماتي که راځه جانانه**

**قرآن کتاب دي دکتاب سره یاري جوړه کړه**

**جنګونه فریږده وسلې ماتي که راځه جانانه**

**سعادته ستا شعر د جانان غزل ته نه رسیږی**

**وزن یې مات کافیې ماتي که راځه جانانه**

**۱۴۰۲/۲/۱۱**

**...**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سعادت**

**بند د جهل دروازه غواړم چي وسي**

**د دولت نه یوه ګیله غواړم چی وسي**

**چي قلم ګوتو کي واخلې ټوپک پريږدي**

**دي ماشوم ته کتابچه غواړم چي وسي**

**تعلیم فرض که مباح دي ملا صاحبه**

**یوه د ټولو فیصله غواړم چي وسي**

**چي مکتب پوهنتون نه وي ډاکټر نسته**

**بیا روغتون کي زنانه غواړم چي وسي**

**خپله وایمه بد رد په شپه او ورځ کي**

**ښه د خلکو روئه غواړم چي وسي**

**ژوندون څه دي د ماتم پر ګدی ناست دي**

**د سعادت سه تماشه غواړم چي وسي**

**۱۴۰۳/۲/۱۵**

**...**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ملنګ**

**سترګي مشال لاس کي ډېوه مړه که راځه ملنګه**

**جهل سبا سو علم راکړه دروازه ملنګه**

**جلاد مو ورک کي د زندان دروازې وتړل سوي**

**اوس پدي ښار کي منصور ګرځي مستانه ملنګه**

**ما په تیاره کي د رڼا رڼا ناري وهلي**

**فصل مي واخستي دوه چنده پیمانه ملنګه**

**ستا وه رخسار ته په کتو سترګي سم نه مړیږي**

**سترګي مي وتړه په یوه توره ټوټه ملنګه**

**موږ دقصرو او د ماڼی په مینه نه پوهیږو**

**تاسو مو فریږدي پر داخپله کنډواله ملنګه**

**سعادته راغلي په ښو به درته لار جارو کم**

**ته راسه وکو څو خبري په داشپه ملنګه**

**۹/۲/۱۴۰۳**

**...**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څه په کمال منافقت کوي داځيني خلک**

**څه په کمال سړی مین کړی او بیا ولاړسی ترینه**

**څه په نازو يې لويولمه د دي لپاره**

**څه په نازو په اور سوځيږمه كباب سوم ترينه**

**ماته قربان کړي ماته جار کړي چي دا ستا یم ټوله**

**د پلار ومخته په انکار سی جوړ درواغ سي ترينه**

**مورکۍ يې مړه سول اوس بي څوک مړوي**

**چي څوک يې ځانه لره نژدي کړي په ژړا سي ترينه**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**